# فیلیمون ته د پولوس رسول لیک

## د کتاب پېژندنه

په دې لیک کې پولوس رسول ټولو ایماندارانو ته په خپلو کې د فیلیمون او اونیسیموس د وروروالي د مثالونو تعلیم ورکوي او یو د بل څخه د خفګان په وخت کې هغوی ته د پخلاینې تعلیم ورکوي.

فیلیمون یو مشهور او نومیالي مسیحي ؤ او ښایي چې هغه د کولسیه په ښار کې د کلیسا غړی ؤ. هغه یو غلام درلود چې اونیسیموس نومېده. هغه د خپل بادار څخه تښتېدلی ؤ او داسې ویل کېدل چې د هغه ځینې شیان یې هم غلا کړي وو. په هغه وخت کې د روم د قوانینو له مخې د داسې کار سزا مرګ ؤ. بیا هغه په یو ډول د پولوس سره چې په هغه وخت کې په زندان کې ؤ، اړیکه نیولې وه. اونیسیموس د پولوس په وسیله په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ. پولوس د دې لیک په وسیله د فیلیمون څخه غوښتنه کوي چې د خپل تښتېدلي غلام سره چې پولوس یې بېرته ورلېږي، پخلا شي او هغه ته د یو بخښل شوي غلام په توګه نه بلکې د یو مسیحي ورور په توګه هرکلی ووایي.

موضوعګانو لست:


سلامونه: ۱–۳

د فیلیمون مینه او ایمان: ۴–۷

د اونیسیموس دپاره د پولوس غوښتنه: ۸–۲۲

وروستني سلامونه: ۲۳–۲۵


۱ دا لیک د پولوس له خوا چې د عیسی مسیح په خاطر زنداني دی او زمونږ د ورور تیموتاوس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له خوا خپل ګران د خدمت ملګري فيليمون ته ۲ او خپلې خور اپفيې او ارخيپوس ته چې لکه د
يو عسکر په شان زما همکار دی او ستاسو د کور کليسا ته. ۳ زمونږ د پلار خدای او څښتن
عيسی مسيح فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## د فيليمون مينه او ايمان

۴ ای فيليمونه، کله چې زه تا په خپلو دعاګانو کې يادوم نو تل د خپل خدای شکر کوم، ۵
ځکه چې زه ستا د مينې نه چې د خدای د ټولو خلکو سره يې لرې او په څښتن عيسی باندې د
ايمان نه خبر يم. ۶ او زما دعا دا ده چې ته خپل د ايمان شراکت داسې ښکاره کړې، چې د دې
سبب شي ترڅو زمونږ پوهه د هغو برکتونو په اړه چې په مسيح کې يې لرو، زياته شي. ۷ ای زما
وروره، ماته ستا د مينې له امله ډېره خوشحالي او تسلي پيدا شوې ده، ځکه چې ستا له امله د
خدای د خلکو زړونه قوي او تازه شوي دي.

## د فيليمون نه د اونيسيموس په خاطر د پولوس غوښتنه

۸ سره له دې چې زه په مسيح کې دا زړورتيا او جرات لرم چې تاته حکم وکړم چې هغه کار
وکړه چې مناسب وي، ۹ خو زه د هغې مينې له امله چې تا سره يې لرم او زه پولوس د يو سپين
ږيري سړي په توګه چې اوس د عيسی مسيح په خاطر زنداني يم، ستا نه د يو څه غوښتنه کوم.
۱۰ زه د خپل زوی اونيسيموس له خوا چې د خپل بنديتوب په وخت کې د هغه روحاني پلار
شوم، ستا نه غوښتنه کوم. ۱۱ هغه يو وخت ستا دپاره ګټور نه ؤ، خو اوس هم ستا او هم زما
دپاره ګټور دی.

۱۲ زه هغه تاته بېرته درلېږم چې زما د زړه سر دی. ۱۳ ما غوښتل چې هغه د خپل ځان سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وساتم، ترځو تر هغه وخته پورې چې زه د زېرې په خاطر په زندان کې يم، هغه به ستا په ځای زما
خدمت کوي. ۱۴ خو ما ونه غوښتل چې ستا له غوښتنې نه پرته کوم کار وکړم، ترڅو ستا نېکي د
مجبوريت له مخې نه بلکې ستا په رضا سره وي.

۱۵ ښايي هغه د دې دپاره ستا نه د لږ وخت دپاره جدا شو چې هغه د تل دپاره ستا سره وي.
۱۶ خو هغه اوس نور د يو غلام په شان نه، بلکې د غلام نه ډېر لوړ دی، لکه د يو ګران ورور په
شان. هغه چې دومره ماته ګران دی، نو څومره به تاته هم د غلام او هم په څښتن کې د يو ورور په
توګه ګران وي.

۱۷ نو که چېرې ته ما خپل شريک ګڼې، نو لکه څنګه چې ما قبلوې، هغه هم قبول کړه. ۱۸ که
چېرې هغه ستا سره کومه بدي کړې وي او يا ستا ورباندې کوم پور وي، نو هغه زما په حساب
وليکه. ۱۹ زه پولوس دا درته په خپل لاس ليکم چې زه به دا هرڅه بېرته درکړم. زه دا نه وايم
چې ته څومره زما پوروړی يې، حتی ته په خپله او ستا ځان هم. ۲۰ ای وروره، د څښتن په
خاطر ماته ګټه ورسوه او احسان وکړه او په مسيح کې زما زړه قوي او تازه کړه.

۲۱ زه ستا په تابعداری باندې باور لرم، نو زه دا شيان تاته ليکم او په دې پوهېږم زه چې درڅخه
څه غواړم، د هغې نه به زيات وکړې. ۲۲ بله دا چې زما دپاره يوه کوټه تياره کړه، ځکه زه هيله
لرم چې خدای به ستاسو دعاګانې قبولې کړي او ما به بيا تاسو ته درولي.

ورووستني سلامونه

۲۳ اپفراس چې د عيسی مسيح په خاطر زما سره په زندان کې دی، تاته سلام وايي. ۲۴
همدارنګه مرقوس، ارسترخوس، ديماس او لوقا چې په دې خدمت کې زما ملګري دي، هم تاته
سلام وايي. ۲۵ په تاسو ټولو باندې دې زمونږ د څښتن عيسی مسيح فضل وي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.